# د بادامو تغذیه

ټيلفون: 0977-758-0799 برېښناليك: **javid.hamidzada@rootsofpeace.org**



## د بادام ونو ته د سرې ورکول

د N-P-K (نايټروجن، فاسفورس او پوتاشيم) پوره اندازه د نيالګيو دښې او روغې ودې لپاره اړينه ده. په ياد ولرئ چې تغذيه د نورو فکتورونو سره هم تړاو لري (مثلاً د اوبو ګولو سره).

**١. مخکې له‌کښېنولو څخه**

أ. مخکې د زړو د کښېنولو څخه په منې کې د ډيران سره يا ۵۰ وينتېه N-P-K ورکړئ.



**٢. هيڅکله نيالګي ته وخت مه ورکوئ چې وده يې ودرېږي.**

أ. که چيرې د ونې وده لږه شي يا ودرېږي نو د لاملونو پېلټه کې يې شئ.

ب. د تغذيې، اوبو يا حشراتو ستونځو ته پام او تصحيح يې کړئ.

**٣. د ودې پر موسم کې**

أ. د وري(حمل) د مياشتي څخه د وږي(سنبلې) ترمياشتې پورې په هره مياشت کې ۲۵ وينتېه نايتروجن سره ورکړئ.

ب. د ونې ودې ته ګوري او د هغې سره سم د سرې اندازه ډيره يا لږه کړئ.

ج. خاوره نمجنه وساتئ. مه پرېږدئ چې ځمکه له حده ډيره وچه يا اوبه شي.

د. د کوچنيو عناصرو د لږوالي علائمو ته پام وکړئ. په ځانګړي توګه د اوسپنې او زنك کمښت ته، که چيري يې د لږوالي ښېښکاره شوې تصحيح يې کړئ.

ه. د اوسپنې لږوالی معمولاً د ډيرو اوبو ورکولو او د آکسيجن د کمښت په پايله کې منځ ته راځي.







**٤. د پاڼو د علائمو څارنه**

أ. په پاڼو کې د غذايي موادو د کمښت او يا ډيروالي ښو (علائمو) ته لکه څنګه د کېڼې خوا په تصوير کې ښودل شوي دي، ځير شئ.

ب. د اړتيا سره يې سم تصحيح کړئ.

**٥. اداره کول**

أ. د اړتيا په اندازه اوبه ورکړئ، د ډيرو اوبو ورکولو څخه ډډه وکړئ.

ب. سره ورکړئ چې ونې روغې او غښتلې شي.

ج. پېښې اداري او تنظيم سره ممکنه ده چې نيالګي په يو کال کې چمتو کړئ.

د.

د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، د ښوالی د پرمختيا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل‌ټيلفون 794677212 (0) 93+، zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوې مسؤليت په بشپړه توګه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايې اتحاديې د نظر څرګندويه نه ده.
د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي‌ټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي